نړیوال بانک
له بې وسۍ، فقر او غربت څخه ژغورلي
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

دافغانستان اسلامي جمهوریت

# د افغانستان دولت او نړیوال بانک د کلیوالي پرمختیا ملي پروګرام د ملاتړ اوزیاتي مرستي لپاره تړون لیك لاسلیك کړ

**کابل، د غبرګولي ۱۰مه – ۱۳۸۸لمریز کال:** د افغانستان د مالیې وزارت او نړیوال بانك نن د۷۵میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت په کلیو او باندوکي د سیمه ییزې اداري دښه والي اودکلیوالي زیربنا دپیاوړتیا لپاره یونوی تړون لاسلیك کړ.نوموړې پیاوړې کوونکې وړیا مرسته به د افغانستان د ملي پیوستون د پروګرام له دوام سره ،چې د ملي یووالي د تامین او له ښکته کچې څخه پورته د افغانستان د بیا رغونې لپاره د دولت د پراخو هڅواو هلوځلو یوه برخه ده ، مرسته او ملاتړ وکړي.

په ۲۰۰۳ م کال کې د افغانستان دولت د سیمه ییزې اداري او دولت جوړونې په لاره کې ډېرې هلې ځلې وکړې او د ملي پیوستون د پروګرام له لارې یې د اساسي زېربناوو پر بنسټ د خلکو بېړنیو اړتیاوو ته ځواب ووایه.
نوموړی پروګرام ډېر ژر په یو ډېر بریالي او لوړ ملي پروګرام واوښت او د سیمه ییزې اداري له رامینځته کېدو او د کلیوالي زېربنا،لکه: کلیوالي سرکونه، برېښنا،د څښلو د اوبو تهیه کول او داسې نورو له نوې رغاونې سره ملاتړ او مرسته کوي.

*"زیاتره افغانان په کلیو کې ژوند کوي، نو په همدغه اساس په هغو سیمو کې د زېربناوو بیا رغونه په کلیو او باندوکې د فقر او غربت د له مینځه وړلو لپاره له سترو او مهمو شاخصونو څخه دي،"* دغه مطلب **د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مالیې وزیر جلالتماب عمر زاخېلوال** څرګند کړ، زیاته یې کړه : *" له پراخو ننګونو او چېلنجونو سره سره په ټول افغانستان کې تقریباً له ۱۹ میلیونوڅخه زیاتو کلیوالو وګړو له دې پروګرام څخه ګټه اخیستې ده، زیاتو بریالیتوبونو او لاس ته راوړنو ته د رسېدو لپاره باید موږ ددې پروګرام اغېزمنتیا او پایښت زیات پیاوړی کړو."*

دغه پروګرام د خپل تاسیس له پیل څخه له سترو او خطرناکو ننګونو او چېلنجونو ،په ځانګړې توګه ،له امنیت سره سره ، د کتنې وړ لاس ته راوړنې هم لرلي دي.د ۲۰۰۳ میلادي کال د می د میاشتې له لومړیو څخه د ۲۰۰۹ میلادي کال د می تر میاشتې پورې له ۲۲۰۰۰ څخه زیات کلي سره یو ځای او یو موټی شول، چې هغوی په سلو کې ۹۹د کلیوالي پرمختیا شوراګانې ټاکلې دي. دغه د کلیو پرمختیایي شوراګانې د ملي پیوستون د پروګرام د ۲۹ همکارو موسسو په مرسته رامینځته شوې دي. نوموړې مو سسې وګړي سره یو ځای او متحد کوي، انتخاباتو او د پرمختیایي پلانونو د ترتیبولو او برابرولو چارې له خلکو سره د مشورو له لارې تر سره کوي، د پروژو په چمتو کولو او تطبیقولو کې مرسته کوي او همدارنګه د کلیو د پرمختیایي شوراګانو د غړیو ظرفیت لوړوي.
تقریبا د کلیو د پرمختیایي شوراګانود ۴۸۸۷۹ پروژو یو څه برخه او یا په بشپړه توګه تمویل شوي دي، چې له هغې جملې څخه ۲۷۹۱۷شاوخوا پروژې تر اوسه بشپړې شوي دي.

*" افغانستان د کلیو او باندو د اوسېدونکو اړتیاوې ډېرې زیاتې دي،"* دغه مطلب **د افغانستان د اسلامي جمهوریت د کلیو د پرمختیا او بیا رغونې وزارت د پروګرامونو معین جلالتماب ویس احمد برمك** څرګند کړ،زیاته یې کړه :*" د یو کلي لپاره یو ځل د مرستې برابرول د اغېزناکې پرمختیا تضمین نه شي کولی. د وګړنیزو شوراګانو له لارې دوام لرونکې مرستې، نه یوازې دا چې دې ملي پروګرام د پایښت لرونکې بریا لیتوب تضمین کوي، بلکې د کلیو په کچه د دولت او خلکو ترمینځ اړیکې ټینګوي. دولت کولی شي د ملي پیوستون د پروګرام له لارې د خلکو باورتر لاسه کړي او موږ باید دغه باور پیاوړی کړو.په همدغه دلیل ددې پروګرام د طرحې د پس منظر اوشالید په اړه د افغانستان د دولت د اړوندو دخیلو ادارو تر منځ بحثونه پیل شوي دي."*

د کليو فرعي پروژې ، چې د ملي پيوستون د پروګرام له لارې تمويليږي، پر اقتصادي او توليدي ټولنيزوپروژو باندې متمرکزې او د کليوالو وګړو پر لومړيتوبونو ولاړې دي. د کليو د فرعي پروژوله ډلې څخه ،چې په اوس وخت کې تمويليږي، په سلو کې ۲۴يې په اوبواو روغتيا ساتنې پورې اړوند مسايل احتوا کوي، په سلو کې ۱۷يې د اوبو لګولوسيستمونو بيا رغونې ته پراختيا ورکوي او په سلو کې ۲۴يې ترانسپورتي بنسټونو او زېربناوو، لکه: سړکونو او پلونو ته ښه والی ورکوي، په سلو کې ۱۵يې انرژي ( د برېښنا کوچنی دستګاوې ) برابروي، په سلو کې ۵يې اقتصادي او عايداتي وسايلو ته ښه والی ورکوي، په سلو کې ۳يې پانګه اچونه جوړوي. د ملي پيوستون پروګرام د افغانستان د ۳۴ ولايتونو د ۳۶۴ ولسواليو له ډلې څخه ۳۵۹ ولسوالی او د ولايتونو مرکزونه تر خپل پوښښ لاندې را وستي دي.

*" په څو وروستيو کلونو کې لاس ته راوړنو ته په پاملرنه او کتنه دا يو ضروري کار دی، چې ددغه ملي پروګرام پايښت او دوام تضمين شي،"* دغه مطلب د **افغانستان لپاره د نړيوال بانك هېوادنی ريسې مريم شرمن** څرګند کړ، زياته يې کړه : *" دې موخې ته د رسېدو په خاطر ددې پروګرام د وروسته پړاو لپاره چمتووالی پيل شوی دی. سربېره پر دې په وروسته پړاو کې د سيمه ييزې پرمختيا شوراګانو د کيفيت د ښه والي او پايښت لپاره اغېزناکې لارې چارې هم په پام کې نيول شوي دي."*

له اوسنيو پياوړو کوونکو مرستو( ۷۵ميليونوډالرو) څخه په استفاده هغه پروژې ، چې د ۲۲۶۰۰ کليوالو سيمه ييزوشوراګانو له خوا په نښه او ترتيب شوي دي، تمويليږي. د يادونې وړ ده د ټولو پاتې کليوالو سيمواو ساحو تر خپل پوښښ لاندې راوستلو لپاره بايد د ۹۰۰۰په شاو خواکې نوې شوراګانې جوړې شي.

نړيوال بانك د ملي پيوستون د پروګرام د تمويل له سترو منابعو څخه دی. په دې پياوړې کوونکې وړيا مرستې سره د ملي پيوستون له پروګرام څخه د نړيوال بانك ټوله مرسته او ملاتړ ۳۸۱ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسېږي. په نورو منابعو کې د افغانستان د بيا رغونې وجهي صندوق ( ۵۱۸ ميليونه امريکايي ډالر) د جاپان د ټولنيزې پرمختيا وجهي صندوق (۴۰ ميليونه امريکايي ډالر). او د نورو يو شمېر دوه اړخيزو منابعو مرستې شاملې دي.

**د افغانستان لپاره د نړيوال بانك د مرستو په هکله معلومات**

نړيوال بانك تقريباً ۱،۸ميلياړده امريکايي ډالر،چې له هغې جملې څخه ۱،۳ميلياړده يې وړيا مرستې او ۴۳۶،۴ ميليونه امريکايي ډالره بې ګټې پوردی. د ۲۰۰۲م کال د اپريل له مياشتې څخه را په دې خوا يې د افغانستان لپاره ژمنه کړېده. د نړيوال بانك زياترو مرستو د کليوال اقتصاد برخې ، زېربناوې ، پوهنه اود لومړيو روغتيايي خدمتونو ملاتړ کړی دی. همدارنګه نړيوال بانك د افغانستان د بيا رغونې صندوق ( ۳ ميلياړده امريکايي ډالر) اداره کوي. له ۲۰۰۲ م ( ۱۳۸۱ لمريز) کال راهيسې د نړيوالې مالي ادارې ( د نړيوال بانک له خصوصي سکټور څخه د ملاتړ برخه) پانګه اچونه ۶۴ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي،په داسې حال کې ، چې د نړيوا ل بانک د څو اړخيزه پانګه اچونې ادارې د ۷۷،۹ ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت پانګه اچونه بيمه کړې ده.

دملي پيوستون پروګرام په اړه دزياتو معلوماتو له پاره لطفاً دې انټرنيټي پاڼې ته مراجعه وکړئ:
http://www.nspafghanistan.org/

**دزياتو معلوماتو له پاره له دې لاندې اشخاصو سره اړيکې ونيسئ:**

عزيزالدين شمس
دماليې وزارت دمطبوعاتي دفتر مسوول
۰۷۹۹۳۲۶۳۸۲
mof.media@gmail.com

عبدالروف ضياء
دنړيوال بانك ددفتر دمطبوعاتو او عامه اړيکو مسوول
۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰
azia@worldbank.org